بسم الله الرحمن الرحيم

## د حسينې رژيم به په خپلې بې طرفۍ سره، د کافرې اشغالگرې (فرانسې) دريځ غوره کړي

**خبر**

د بنگله دېش په بهرنيو چارو وزارت کې يوې سرچينې وويل؛ چې د بنگله دېش رژيم به د هغو ستونزو په اړه چې فرانسه ورسره مخ ده، بې طرفه پاتې شي. د فرانسې د ولسمشر له خوا د اسلام دين په اړه بحث، به د دولت له خوا محکوم نه شي او د فرانسې ضد لاريونونه به هم کنټرول کړي. د چهار شنبې په ورځ د بهرنيو چارو وزارت چارواکو وويل: «د فرانسې د سفارت امنيت به ـد دي لپاره چې فرانسه د ډاکې لپاره يو بين المللي مکتب او دوست هېواد دی ـلا ټينگ کړي او په بنگله دېش کې به د فرانسوي اوسېدونکو امنيت ته هم پاملرنه زياته کړي.» منبع: (Bangla Tribune, Wednesday, October 28, 2020)

دا په داسې حال کې ده، چې د ډاکې پوليسو وويل: «په بنگله دېش کې د فرانسې پر ضد چې زموږ د گران پيغمبر صلی الله عليه وسلم کارتونونه يې خپاره کړي وو، لاريونونه روان دي. تر اوسه له ۵۰زرو څخه زياتو خلکو د بنگله دېش په مرکز کې د فرانسې ضد لاريونونو کې برخه اخيستې ده، دا ځکه چې امانول ماکرون په عام ډول د گران پيغمبرصلی الله عليه وسلم د کارتون خپرولو ته اجازه ورکړه. لاريون کوونکي غواړي چې په ډاکه کې د فرانسې سفارت ته ځانونه ورسوي.» منبع: .(Al Jazeera, November 2, 2020)

د حسينې دغه بې مانا او بې ارزښته (الرويبضه) رژيم نه شي کولای د فرانسې د ولسمشر دغه ناروا کار- چې زموږ گران پيغمبر صلی الله عليه وسلم او اسلام ته يې سپکاوی کړی او ټول اسلامي امت يې پروړاندې راپورته شوی ـ پټ کړي. د لاريونونو له پيل څخه تر اوسه پورې حسينه صاحبه د ماکرون په دغو نفرت لرونکو خبرو باندې چپ پاتې ده. بالاخره حسينې مسلمانانو ته اجازه ورکړه تر څو خپله پاکه او مقدسه عقيده ورته ښکاره کړي. نوموړې نه شو کولای چې په اسلامي خاوروکې د فرانسې د ولسمشر له خبرو څخه دفاع وکړي، ځکه نوموړي په ښکاره سره اسلام او مسلمانانو ته سپکاوی کړی و. د دې پر اساس ماکرون غوښتل چې راتلونکي انتخابات له اسلام او مسلمانانو سره په نفرت ښکاره کولو سره وگټي، همدارنگه حسينې هم غوښتل چې د فرانسې د ولسمشر ماکرون له خوا د اسلام ضد خبرو پر وړاندې چپ پاتې کېدلو سره په واک کې پاتې شي، خو الله سبحانه وتعالی په قران کريم کې فرمايلي دي:

﴿**لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ**﴾[المجادله: ۱۲]

***ژباړه:*** *هېڅ داسې قوم به تاسې ونه وينئ چې په رېښتيا، پر الله سبحانه وتعالی باندې ايمان او باور ولري، خو بيا هم له کفارو سره دوستي وکړي.*

حسينه کولای شي چې د پاکستان سفير د نوموړي پلار ته د سپکاوي له امله احضار کړي او د يوه پروفيسور قرارداد د دې له امله فسخ کړي، چې نوموړې ته يې بې احترامي کړې وه. خو د دې حوصله بيا نه لري چې د هغو لاريون کوونکو له خولې يوه خبره هم واوري؛ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د کفارو له خوا د سپکاوي پروړاندې يې کوي. که څه هم رسول الله صلی الله عليه وسلم په ښکاره ډول فرمايلي دي:

**«لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهِ وَوَالِدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ» (رواه مسلم)**

***ژباړه:*** *له تاسو څخه به يو هم تر هغه وخت مومن نه شي، چې خپل پيغمبر له خپل ځان، اولاد، مور او پلار او نورو خلکو څخه ورته ګران نه وي.*

د حسينې محترمې په چپ پاتې کېدو او له مسلمانانو په نه ملاتړ سره، د يادې محترمې رژيم په ښکاره د اسلام، مسلمانانو او رسول الله صلی الله عليه وسلم پر وړاندې دښمني اعلان کړه. اوس به دا يوازې زموږ د مټو زور او له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ريښتينې مينه وي، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقه د خلافت بيا تاسيس لپاره هڅې وکړو. دغه راز د خلافت په بيا تاسيس سره به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته سپکاوی د تل لپاره ودرول شي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکوال: عمادالامين**

**د حزب التحرير ولايه ـ بنګله دېش مطبوعاتي دفتر غړی**

**۱۴۴۲هـ.ق د ربيع الاول ۲۱مه**

**۲۰۲۰م، د نومبر ۷مه**